


Kardan Publishing

# Kardan Research Journal (KRJ)

Recognized by the Ministry of Higher Education, Afghanistan.
Journal homepage: krj.kardan.edu.af

# د لوړو زده‌کړو نظام د کمزورتیا لاملونه او د تضمین  کیفیت د معیارونو د پلي کولو د خنډونوتحلیل او حل لارې

دوکتور محمد عثمان روحاني
عبد الزاهد احمدي

**To cite this article:** روحانی، محمد عثمان او عبد الزاهد احمدي. 2025. "د لوړو زده‌کړو نظام د کمزورتیا لاملونه او د تضمین کیفیت د معیارونو د پلی کېدو د خنډونو تحلیل او حل لارې." *Kardan Research Journal* 2, no. 1: 42–61.

*© 2025 The Author(s). This open access Article is distributed under a Creative Commons Attribution (CC-BY) 4.0 license. Published by Kardan University*

*Published online: 13 July 2025*

*Submit your article to this journal*

Article

Kardan Research Journal
2 (1) 42 – 61
©2025 Kardan University
Kardan Publications
Kabul, Afghanistan

# د لوړو زده‌کړو نظام د کمزورتیا لاملونه او د تضمین کیفیت د معیارونو د پلي کولو د خنډونو تحلیل او حل لارې

Received: 11 Nov 24
Revised: 05 May 25
Accepted: 01 Jun 25
Published: 13 Jul 25

دوکتور محمد عثمان روحاني
عبد الزاهد احمدي

## لنډيز

*د افغانستان د لوړو زده‌کړو وزارت د کیفیت د تضمین د معیارونو او هغو ته د اعتبار ورکولو پلي کول کولی شي د زده‌کړې او تحصیلي خدمتونو کیفیت په لوړو زده‌کړو ادارو کې زیات او ښه کړي، خو د دې معیارونو د پلي کولو پر وړاندې ځینې خنډونه شتون لري. په دې مقاله کې هڅه شوې چې د کیفیت د تضمین د معیارونو د پلي کولو پر وړاندې د شته نظریو خنډونه تحلیل شي. د دې څېړنې اصلي موخه د لوړو زده‌کړو مؤسسو د کیفیت د تضمین د معیارونو او اعتبار ورکولو د پلي کولو پر وړاندې اساسي خنډونه پېژندل دي. په دې څېړنه کې د توصیفي او تحلیلي میتود په کارولو سره د افغانستان د لوړو زده‌کړو په مؤسسو او پوهنتونونو کې د کیفیت د تضمین د معیارونو د پلي کولو ننګونې او خنډونه څېړل شوي دي او همدارنګه په دې مقاله کې هڅه شوې چې د دې خنډونو د رفع کولو لپاره مناسبې لارې چارې هم وړاندې شي. په دې څېړنه کې له تحلیلي-توصیفي میتود او کړنلارې څخه استفاده شوې ده او همدارنګه له ځینو معتبرو علمي مقالو او وېب‌پاڼو څخه ګټه اخیستل شوې ده. د دې څېړنې د پایلو پر اساس ښودل شوې ده چې سیاسي، اقتصادي، د مغزونو تېښتونه، د لوړو زده‌کړو ادارو د خپلواکۍ نه‌شتوالی، په علمي چارو کې د غیرعلمي کسانو لاس‌وهنه، د نخبه‌ګانو بهرته کډوالي، د قوانینو نشتوالی او په افغانستان کې د نړیوالو د همکارۍ معطلول د کیفیت د تضمین د معیارونود پلي کولو عمده خنډونه دي.*

***کلیدي ټکي:*** *د ضعف عوامل، د تضمین کیفیت معیارونه، د پلي کولو خنډونه، د لوړو زده‌کړو نظام*

## سریزه

دغه مقاله د افغانستان په تحصیلي نظام کې د لوړو زده‌کړو سیستم د ضعف لاملونو، د کیفیت د تضمین د معیارونو او د لوړو زده‌کړو د اعتبار ورکولو د پلي کولو خنډونو ته کتنه کوي. د زده‌کړې کیفیت او د کیفیت د تضمین د معیارونو پلي کول د بېلابېلو هېوادونو په اقتصادي، فرهنګي، سیاسي او پوځي ډګرونو کې د سیالۍ په توګه اهمیت لري. په افغانستان کې دغې موضوع ته لږ پام شوی او په دې برخه کې لږې پانګونې شوې دي. مقاله د افغانستان په لوړو زده‌کړو کې د تحصیلي کیفیت ټیټوالی او د کیفیت د تضمین د معیارونو د نه پلي کېدو لاملونه تحلیلوي او شته ستونزې بیانوي. همدارنګه، د دې هېواد د تحصیلي کیفیت د ښه کولو او د زده‌کړې بحران څخه د وتلو لپاره ځینې لارې چارې وړاندیز کېږي. د پوهنتونونو او لوړو زده‌کړو مؤسسو علمي کادر پاملرنه هم د دې مقالې له مهمو بحثونو څخه ده، ځکه چې دغه کادرونه د هېواد موخو او پراختیا لپاره اساسي رول لري. مقاله په ټوله کې د افغانستان په لوړو زده‌کړو کې د کیفیت د

پرمختګ او لوړولو اهمیت ته اشاره کوي ترڅو دغه نظام د محصلینو، ټولنې او کاري بازار د نویو اړتیاوو ځواب‌ویونکی شي.

سره له دې چې تېرو ۲۳ کلونو په اوږدو کې په افغانستان کې د لوړو زده‌کړو په کمیت کې ستر پرمختګ راغلی، خو په دې ادارو کې د تحصیلي کیفیت بحران اوس هم شتون لري. څېړنې ښیي چې له ۲۰۰۱ م کال وروسته د لوړو زده‌کړو وزارت د زده‌کړو پر کمیت تمرکز کړی او تحصیلي کیفیت ته یې لږ پام کړی دی. د هېواد د لوړو زده‌کړو ادارې اوس د کیفیت په بحران کې ښکېلې دي. د دې بحران د حل لپاره، اړینه ده چې د کیفیت د تضمین معیارونو د پلي کولو پروړاندې شته خنډونه لرې شي او د دولتي او خصوصي تحصیلي فعالیتونو پر وړاندې اغېزمنه څارنه ترسره شي. د زده‌کړې کیفیت باید د یوې استراتېژیکې او اوږدمهاله پروسې په توګه په پام کې ونیول شي چې په‌کې ټولې اړوندې ډلې ګډون ولري، ترڅو له کمیتي پرمختګ سره سم، په لوړو زده‌کړو کې د تحصیلي کیفیت کچه هم لوړه شي.

## د څېړنې ستونزه

د افغانستان په لوړو زده‌کړو کې د کیفیت د تضمین معیارونو او د اعتبار ورکولو د پلي کولو نشتون په تحصیلي سیستم کې ډېرې ستونزې رامنځته کړي دي. په دغو ستونزو کې د زده‌کړو د کیفیت ټیټوالی، د کیفیت د تضمین لپاره د معتبرو معیارونو نشتوالی، غیر کټور تدریس او د تحصیلي پروګرامونو بې اغېزمنتوب شاملې دي. دغه وضعیت د فارغینو بېکارۍ او د مناسب کار موندلو په وړتیا کې ستونزې رامنځته کوي. همدارنګه د اعتبار ورکولو د سیستم نشتوالی د دې لامل کېږي چې د افغانستان پوهنتونونه له نړیوالو معیارونو سره سم سندونه ونه لري او په بهرنیو هېوادونو کې د تحصیلي او کاري فرصتونو محدودیت رامنځته کړي.

## د څېړنې اهمیت او اړتیا

د افغانستان په لوړو زده‌کړو کې د کیفیت د تضمین معیارونو او د اعتبار ورکولو د پلي کولو ضعف او خنډونو پېژندل، د لوی اهمیت وړ څېړنه ده. دغه څېړنه کولی شي ساختاري، مدیریتي او د پالیسۍ ستونزې وپېژني او د تحصیل کیفیت د ښه کولو لپاره لارې چارې وړاندې کړي. که د لوړو زده‌کړو مؤسسې دغه معیارونه پلي نه‌کړي، د تحصیلي سندونو اعتبار به تر پوښتنې لاندې راشي. د دغو ستونزو پېژندنه له حکومت او پرېکړه نیوونکو ادارو سره مرسته کوي ترڅو د تحصیلي نظام د ښه کولو لپاره غوره پرېکړې وکړي. سربېره پر دې، دغه څېړنه کولی شي د بېلابېلو ټولنیزو ډلو لپاره کیفیت لرونکو زده‌کړو ته د لاسرسي په برابرولو کې مرسته وکړي. همدارنګه دغه څېړنه کولی شي د راتلونکو تحصیلي کړکېچونو د مخنیوي او د لوړو زده‌کړو په ادارو کې د رونتیا او حساب ورکونې په لوړولو کې مرسته وکړي. په پایله کې د لوړو زده‌کړو کیفیت ښه کول به د محصلینو د فني او تخصصي مهارتونو په پراختیا کې مرسته وکړي او فارغین به وکولی شي چې د هېواد په اقتصادي او ټولنیز پرمختګ کې اغېزمن رول ولوبوي.

## د څېړنې پوښتنې

1. د افغانستان د تحصیلي سیستم د کمزورتیا ترټولو مهم لاملونه او د کیفیت د تضمین معیارونو د پلي کولو خنډونه څه دي؟
2. د افغانستان د لوړو زده‌کړو مؤسسو د سیستم د کمزورتیا ترټولو مهم لاملونه څه دي؟
3. د کیفیت د تضمین نړیوالو ماډلونو د تطبیق پر وړاندې موجود خنډونه څنګه له منځه وړل کېدای شي؟

## د څېړنې موخې

1. د افغانستان د لوړو زده‌کړو مؤسسو د سیستم کمزورتیا لاملونه پېژندل.
2. د افغانستان په لوړو زده‌کړو کې د کیفیت د تضمین معیارونو او اعتبار ورکولو د پلي کولو مهمو خنډونو پېژندل
3. د کیفیت د تضمین نړیوالو ماډلونو د تطبیق پر وړاندې د خنډونو د رفع کولو لپاره مناسبو حل لارو او عملي تګلارو وړاندیز کول.

## د څېړنې مېتود

دغه څېړنه توصیفي او تحلیلي بڼه لري او د معلوماتو راټولولو لاره یې کتابخانه یي ده. د څېړنې موخه د هېواد د تحصیلي نظام د کمزورتیا ترټولو مهم لاملونه او د کیفیت د تضمین د معیارونو او اعتبار ورکولو د پلي کولو خنډونه پېژندل دي. د دې څېړنې اهمیت او اړتیا په دې کې ده چې لوړې زده‌کړې د هرې ټولنې د پرمختګ او پراختیا لپاره اساسي رول لري.

## د څېړنې شالرلید

تر اوسه پورې په افغانستان کې د لوړو زده‌کړو د نظام کمزورتیا او د کیفیت تضمین د معیارونو او د اعتبار ورکولو د پلي کولو خنډونو په اړه د یوې جدي څېړنې کموالی شتون لري چې مستقیم به "د نظام په کمزورتیا او د کیفیت د تضمین معیارونو د پلي کولو په خنډونو" خبرې او د دې عواملو پېژندنه وکړي. لږترلږه لیکوال تراوسه پورې له داسې څېړنو سره نه‌دی مخ شوی خو هغه مقالې او څېړنې چې د تدریس کیفیت او د تحصیلي سیستم چلېنجونه څېړي، زیاتره یې عمومي دي چې "غیر مستقیم" د افغانستان د لوړو زده‌کړو د نظام کمزورتیا او آن د هېواد د علمي پرمختګ ټکني کېدل بیانوي. له دې څېړنو څخه لاندې موارد یادولی شو:

1. محمدعلي نظري (1400 هـ ش)، "**نگاهی آسیب‌شناسانه به نظام تحصیلات عالی افغانستان**". دغه څېړنه د هېواد د ښوونیز سیستم کمزورتیاوو ته په یو تحلیلي نظر ګوري او یو داسې میکانېزم وړاندې کوي چې له لارې یې کولی شو یو اغېزمن، کارنده او د مطلوبو ځانګړتیاوو لرونکی د لوړو زده‌کړو سیستم جوړ کړو. د څېړنې پایلې ښیي چې "د لوړو زده‌کړو ادارې د انساني ارزښتونو پر بنسټ بنسټیز بیا جوړښت او نوي کولو ته اړتیا لري. په بل صورت کې لوړې زده‌کړې نه شي کولی خپلې اصلي موخې پوره کړي.[1]"

2. عتیق الله رحیمي او میر عثمان ایوبي (1399 هـ ش)،"**تحلیل نظری معیارهای تضمین کیفیت و اعتباردهی وزارت تحصیلات عالی افغانستان**"، دغه څېړنه د لوړو زده‌کړو وزارت د کیفیت تضمین او اعتبار ورکولو ۱۱ معیارونه تحلیلوي او د هغو د پلي کولو خنډونه وړاندې کوي. څېړنه وروسته له دې چې د دې سیستم کمزورتیاوې یادې کړي، د نظام ګټه اخیستونکو ته وړاندیزونه کوي ترڅو د دې پلي کولو له لارې د لوړو زده‌کړو سیستم د ړنګېدو له خطر څخه بچ شي.[2]

3. فدا محمد فرزام او شفق عبدالقیوم شفق (1400 هـ ش)، "**نقش تطبیق معیارهای تضمین کیفیت**"؛ دغه څېړنه د کیفیت تضمین او اعتبار ورکولو د معیارونو د پلي کولو په برخه کې د علمي تولید د مثبتو اغېزو تصویر وړاندې کوي؛ د

---

[1] محمدعلی نظری، "نگاهی آسیب‌شناسانه به نظام تحصیلات عالی افغانستان (با تکیه بر رویکرد تعلیم و تربیت انتقادی)،" *دوفصلنامه یافته‌های علوم تربیتی* 1، ش 1 (سنبله 1400): 25–48.

[2] عتیق‌الله رحیمی و میر عثمان ایوبی، "نقش تطبیق معیارهای تضمین کیفیت،" *بهارستان: فصلنامه علمی–تحقیقی علوم اجتماعی* 1، ش 1 (خزان 1402).

څېړنې موندنې ښيي چې د عملیاتي پلان پلي کول او د لوړو زده‌کړو په ادارو کې د کیفیت تضمین د مدیریت حضور د کیفیت د تضمین د معیارونو په پلي کولو سره مرسته کوي او له علمي تولید سره مثبت او معنا لرونکی تړاو لري.[3]

4.احمد بخش اخلاصي (1401 هـ ش)، "**آسیب ها و کاستی های نظام تحصیلی افغانستان**". دغه څېړنه د افغانستان د لوړو زده‌کړو نظام تاریخچه له ۲۰۰۱م. کال وروسته تحلیلوي. څېړنه ښيي چې د افغانستان د لوړو زده‌کړو شرایط او بنسټونه د علمي پرمختګ لپاره مناسب نه دي. د څېړنې موندنې ښيي چې د افغانستان په لوړو زده‌کړو کې د زړو تدریسي سیستمونو کارول او د کیفیت زده‌کړو ته پام نه کېدل د زیانمنو تحصیلي اغېزو لامل شوي دي چې د متخصصو کادرونو نشتوالی او د علمي ادارو د ضعف سبب شوي دي.[4]

5.ډاکټر محمد طاهر تنزهي (1402 هـ ش)، "**چالش های نظام تحصیل تحصیلات عالی در افغانستان**"؛ دغه څېړنه د افغانستان د لوړو زده‌کړو په نظام کې موجود چیلنجونه ډېر محتاطانه تحلیلوي. د څېړنې موندنې ښيي چې د لوړو زده‌کړو نظام په افغانستان کې د زړو تدریسي سیستمونو په شاوخوا کې متمرکز دی چې د زده‌کړو کیفیت په پراخه کچه کمزوری شوی او دا حالت د تحصیلي زیانونو، د متخصصو کدرونو نشتوالي او د علمي ادارو د ضعف لامل شوی دی.[5]

**د دغې څېړنې توپیرونه له نورو علمي څېړنو سره په څو برخو کې څرګندېدای شي:**

**1- د څېړنې موضوع:** زمونږ څېړنه په ځانګړې توګه د افغانستان د لوړو زده‌کړو په سیستم کې پر ستونزو او ننګونو باندې تمرکز لري، په داسې حال کې چې نورې څېړنې ممکن په عمومي ډول یا په بېلابېلو هیوادونو او تعلیمي سیستمونو کې ترسره شوې وي.

**2- د ځانګړې څېړنې اړخونه:** دغه څېړنه په افغانستان کې د تدریس کیفیت، د غیرمتخصصو استاذانو ګمارنه، د سیستم او ټولنې د اړتیاوو ترمنځ نه تطابق او پر سیاسي او اقتصادي ننګونو باندې ژور تمرکز لري چې ممکن په نورو څېړنو کې دې تفصیل ته لږ پام شوی وي.

**3-** پر **حل لارو او وړاندیزونو باندې تمرکز:** د ډېرو څېړنو برعکس چې یوازې د ستونزو او ننګونو په اړه بحث کوي، دغه څېړنه د افغانستان په لوړو زده‌کړو کې د سیستم ښه کولو لپاره عملي حل لارې او وړاندیزونه وړاندې کوي. په دغو وړاندیزونو کې د ګمارنې معیارونو ښه کول، بنسټیزو تأسیساتو ته پاملرنه او د تعلیمي سیستم اصلاح کول شامل دي.

**4- له نړیوالو معیارونو سره پرتله:** زموږ څېړنه هڅه کوي چې له نړیوالو معیارونو سره د افغانستان اوسنی وضعیت پرتله کړي، کوم چې کولی شي په سیستم کې د نړۍ له پرمختللو سیستمونو سره د توپیرونو په تشخیص کې لازیات وضاحت رامنځته کړي.

**5 - د زیان پوهنې نظر:** دغه څېړنه د زیان پوهنې له نظر سره د تعلیمي سیستم په اړه څېړنه کوي او هڅه کوي چې د ستونزو اصلي علتونه وپېژني، تجزیه او تحلیل یې کړي، په داسې حال کې چې نورې څېړنې ممکن یوازې د وضعیت پر تشریح یا عمومي ارزونې باندې تمرکز وکړي.

---

[3] فدامحمد فرزام و عبدالقیوم شفق، "نقش تطبیق معیارهای تضمین کیفیت،" *فصلنامه پژوهش‌های معاصر در علوم مدیریت و حسابداری* 3، ش 9.(1400)

[4] احمدبخش اخلاصی، "آسیب‌ها و کاستی‌های نظام آموزشی افغانستان (از آغاز تا بیست سال نظام جمهوری)،"*گفتمان فقه تربیتی* 1401، ش 2 (ایران: 1401).

[5] محمد طاهر تنزهی، "چالش‌های نظام آموزش تحصیلات عالی در افغانستان،" *فصلنامه علمی–تحقیقی علوم اجتماعی پوهنتون غالب* 12، ش 4 (زمستان 1402).

**6- د څېړنې ژبه:** غه څېړنه په پښتو ژبه ترسره شوې ده په داسې حال کې چې نورې علمي څېړنې ډېرې په فارسي ژبه ترسره شوي دي.

دغه توپيرونه سبب کېږي چې زموږ څېړنه په ځانګړې توګه د افغانستان د لوړو زده‌کړو سيستم پر ځانګړو مسايلو او ستونزو باندې تمرکز وکړي او د دې وضعيت د ښه کولو لپاره ځانګړي او عملي وړانديزونه وړاندې کړي.

## د څېړنې موندنې

د مرکو له ترسره کولو، د څېړنيزو مقالو بياکتنې او د علمي بحثونو له مرور وروسته د څېړنې ترټولو مهمې موندنې په لاندې ډول دي:

### د کيفيت تضمين د معيارونو او اعتبار ورکولو د پلي کولو اهميت او اړتيا

د کيفيت لوړولو او اعتبار ورکولو رياست، د ۱۳۹۱ کال په ترڅ کې د لوړو زده‌کړو وزارت په چوکاټ کې رامنځته شو. دغه رياست تر اوسه هڅه کړې چې علمي مرکزونه له ملي او نړيوالو معيارونو سره برابر کړي او د لوړو زده‌کړو نظام په کيفيتي اړخ کې هم پرمختګ وکړي. بې‌شکه، دغه اداره تر اوسه پورې د ټاکل شوې موخې د ترلاسه کولو لپاره اوږده لاره لري. د کيفيت تضمين او اعتبار ورکولو ۱۱ معيارونه کولی شي د لوړو زده‌کړو د کيفيت اړتياوې پوره کړي او د يو کيفيت لرونکي تحصيلي نظام لامل شي. د دغو معيارونو پلي کول يوه اړتيا ده او کولی شي ټولنه د يو علمي اړتيا ځواب ويونکي تحصيلي نظام ته ورسوي او په علمي کيفيت او د عملي پوهې په ښه کولو کې اغېزمن تمام شي.[6]

### د کيفيت تضمين د معيارونو پلي کولو اهميت په لاندې ټکو کې خلاصه کېدی شي:

1. **د عامه باور زياتوالی**: د کيفيت تضمين او اعتبار ورکول د دې سبب کېږي چې ګټه اخيستونکي (محصلين، استاذان، کارګمارونکي او ټولنه) د تحصيلي معيارونو او خدمتونو په اړه باور پيدا کړي.
2. **پر له پسې پرمختګ**: د کيفيت تضمين د معيارونو پلي کول د فعاليتونو د پر له پسې ارزونې لپاره زمينه برابروي او د کمزوريو او قوتونو پېژندلو لپاره شرايط برابروي ترڅو پر له پسې پرمختګ رامنځته شي.
3. **نړيواله سيالي**: دغه معيارونه له سازمانونو سره مرسته کوي ترڅو له نړيوالو معيارونو سره سمون پيدا کړي او په نړيواله کچه سيالۍ ته چمتو شي.
4. **ځواب ورکول او روڼتيا**: د سازمانونو په فعاليتونو کې روڼتيا رامنځته کول او ګټه اخيستونکو ته ځواب ورکول د اعتبار ورکولو يوه اصلي دنده ده.
5. **د سرچينو اغېزمنه کارونه**: د کيفيت په تضمين کولو سره په سازمانونو کې د سرچينو اغېزمنه کارونه رامنځته کېږي.
6. **د تحصيلي کيفيت او خدمتونو لوړوالی**: دغه معيارونه د برنامو او پروسو د پر له پسې ښه کولو لپاره زمينه برابروي.

د دې معيارونو پلي کول په ځانګړې توګه په تحصيلي او خدماتي برخو کې د پايدارې ودې او پراختيا په ترلاسه کولو کې کليدي رول لري.

[6] رياست ارتقای کيفيت و اعتباردهی وزارت تحصيلات عالی افغانستان، «ويب‌سايت رسمی»، https://qaad.edu.af

## د کیفیت تضمین معیارونه او د هغو د پلي کولو وړاندې خنډونه

د افغانستان د لوړو زده‌کړو وزارت د لوړو زده‌کړو د کیفیت د لوړولو او هغو ننګونو لپاره چې ورسره مخ دی، زیاتې هڅې کړې دي. د دې لپاره د کیفیت تضمین او اعتبار ورکولو ریاست جوړ شوی، ترڅو د پوهنتونونو د تحصیلي کیفیت او اعتبار ورکولو څارنه وکړي. د دې ریاست موخه د دولتي او خصوصي پوهنتونونو د کیفیت څارنه او د تحصیلي معیارونو لوړول دي. د دې ریاست کارکوونکي تل د تحصیلي پروسو پر څارنې بوخت دي او هڅه کوي چې د پوهنتونونو اعتبار تأیید او هر پنځه کاله وروسته یې بیا تازه کړي.

سره له دې لا هم ځینې ستونزې شتون لري لکه د راپورونو او عملي اجراتو ترمنځ توپیر، د لوړو تحصیلاتو لرونکو استاذانو کمښت او د څېړنې او تحصیلي پروسو کې ستونزې. ډېری استاذان یوازې د لېسانس درجه لري او د هغوی د پرمختګ لپاره لوړ مقاطعه تحصیلي پروګرامونه لا هم پرمخ روان دي. همدارنګه، افغانستان له بهرنیو پوهنتونونو سره د استاذانو او علمي سرچینو د تبادلې لپاره همکارۍ لري خو امنیتي او د ټکنالوژۍ بنسټیزې ستونزې دغو همکاریو ته زیان رسوي.

په پایله کې به دا ووایو چې له ننګونو سره سره، د افغانستان په لوړو زده‌کړو کې پرمختګونه رامنځته شوي دي، خو لا هم د تحصیلي معیارونو او څارنې ته ډېر پام اړول اړین دی. د لوړو زده‌کړو وزارت د لوړو زده‌کړو مؤسسو د معیاربندۍ لپاره د یوولس‌ګونو معیارونو پېژندنه کړې ده چې پلي کول یې له ګڼو خنډونو سره مخ دي، چې په دې مقاله کې ځینې یې په لنډه توګه څېړل شوي دي.[7]

### لومړی معیار: "ماموریت او ستراتېژي"

د دې معیار له‌مخې د لوړو زده‌کړو ټولې ادارې، که دولتي وي او که خصوصي، باید یو تأیید شوی ماموریت او لیدلوری ولري او همدارنګه د لوړو زده‌کړو وزارت له‌خوا تأیید شوی استراتېژیک پلان ولري. خو دا معیار ځینې خنډونه لري چې د پلي کولو پر وړاندې پراته دي. دغه خنډونه عبارت دي له:

- **په پوهنتونونو کې د لومړي معیار "استراتېژیک پلان جوړونې" د پلي کولو خنډونه**
**د معیاري چوکاټ نشتوالی**: استراتېژیک پلانونه په پراخه توګه او د فردي خوښیو له مخې جوړېږي چې له دې سره د همغږۍ او سم پلي کولو ستونزې رامنځته کېږي.
- **د مالي سرچینو کمښت**: اقتصادي ستونزې او د مالي سرچینو کمښت د پلانونو د اغېزمن پلي کولو خنډ ګرځي.
- **یوازې د تیورۍ پراساس تمرکز او عملي کار ته لږه پاملرنه**: ډېری پلانونه د تیوري په اړخ تمرکز کوي، خو د دوی عملي تطبیق له پامه غورځول شوی دی.
- **د څارنې او پر له پسې ارزونې کمښت**: د پلانونو د پلي کولو په ارزونه کې کمزورۍ د دې سبب کېږي چې موخې ترلاسه نه شي.

[7] معروف عمر، "ضعف سیستم آموزش عالی در افغانستان و افت تحصیلی دانشجویان،" 18 جدی 1398، https://noonweekly.com/

- **سیاسي او ټولنیزې ستونزې**: په افغانستان کې سیاسي کړکېچونه او امنیتي ستونزې د پلانونو د اغېزمن پلي کولو پر وړاندې عمده خنډونه دي. په پای کې د دې پلانونو د پلي کولو د ښه والي لپاره اړینه ده چې د امارتي ادارو او پوهنتونونو ترمنځ همغږي زیاته شي، مالي سرچینې تأمین شي او پر له پسې څارنه وشي.[8]

## دوهم معیار: "د ټولنې په پراختیا کې ګډون"

دا معیار د ادارې، پوهنځیو او فعالو ډیپارټمنټونو د فعالیت پر زیاتوالي ټینګار کوي؛ د دې معیار له مخې د لوړو زده‌کړو مؤسسې مکلفې دي چې د خپلې سیمې، ولسوالۍ او ملي کچې په پراختیا کې فعاله برخه واخلي.

### د دوهم معیار "د ټولنې په پراختیا کې ګډون" د پلي کولو خنډونه

1. **د اړینو اسانتیاوو نشتوالی**: اقتصادي ستونزې او د مالي سرچینو کمښت د دې مخه ډب کړې چې استاذان، کارمندان او محصلین د ټولنې په پراختیا کې په اغېزمنه توګه ګډون وکړي.
2. **د علمي څېړنو لپاره د امکاناتو کمښت**: علمي څېړنې لویو پانګونو ته اړتیا لري، خو د لوړو زده‌کړو مؤسسې د اقتصادي کمزورتیا له امله نه‌شي کولی چې د حکومت یا نورو ادارو له مالي ملاتړ پرته په دې برخه کې کار وکړي.
3. **نړیوالو علمي ژورنالونو ته محدوده لاسرسی**: بله ستونزه د استاذانو او محصلینو لپاره د نړیوالو علمي ژورنالونو محدوده لاسرسی دی.
4. **د کافي انګېزې نشتوالی**: د افغانستان سیاسي، امنیتي او علمي کړکېچونو، د استاذانو او محصلینو د ټولنې په پراختیا کې د ګډون انګېزه کمه کړې ده.
5. **د معنوي او بشري ظرفیتونو کمښت**: د متخصصو کارکوونکو نشتوالی او د استاذانو او محصلینو په علمي او څېړنیزو پروګرامونو کې د فعاله ګډون کمښت هم د تطبیق یو لوی خنډ دی. په پای کې د دوهم معیار د پلي کولو لپاره اړینه ده چې د لوړو زده‌کړو وزارت د نورو تحصیلي ادارو سره مالي، معنوي او ظرفیت جوړونې په برخو کې داسې پروګرامونه پرمخ بوځي چې د ټولنې په پراختیا کې اغېزمنه برخه اخیستنه شونې شي.

## درېیم معیار: "حاکمیت، رهبري او اداره"

د ادارې حاکمیت، رهبري او اداره کولی شي له مور، سره د ټاکل شویو موخو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي؛ د دې معیار له‌مخې د لوړو زده‌کړو ټولې ادارې مکلفې دي چې یو مناسب او اغېزمن اداري جوړښت رامنځته کړي.

### د درېیم معیار "حاکمیت، رهبري او اداره" د پلي کولو خنډونه

1. **اداري فساد**: دا ستونزه د لوړو زده‌کړو ادارو رهبري او فعالیت کمزوری کوي.
2. **په اداره کې سیاسي لاسوهنې**: د مدیریت په برخه کې د سیاست لاسوهنې.
3. **د اصولو پر ځای د اړیکو لومړیتوب**: د ناکاره کسانو ګمارنه او د وړتیا پر بنسټ نه‌ټاکل کېدنه.
4. **د مالي سرچینو کمښت**: د زېرساختونو او بشري ځواک لپاره د کافي بودیجې نشتوالی.
5. **د وخت کمښت**: د کارونو زیاتوالی او د کارکوونکو کمښت د معیارونو د بشپړ پلي کولو خنډ ګرځي.
6. **د معیارونو په تفسیر کې ابهام**: له معیارونو څخه یوازینی تفسیر شتون لري چې د پلي کولو پر مهال ګډوډې رامنځته

[8] فدامحمد فرزام و عبدالقیوم شفق، "نقش تطبیق معیارهای تضمین کیفیت،" ص 14.

کوي. دغه خنډونه د تضمین کیفیت معیارونو، په ځانګړې ډول په لنډمهاله توګه، په پلي کولو کې ستونزې رامنځته کوي.[9]

## څلورم معیار: "مالي او اداري سرچینې"

ټولې اداري او سازمانونه، د خپلو استراتېژیکو موخو د ترلاسه کولو لپاره د کافي بودیجې تخصیص ته اړتیا لري؛ د دې لپاره د لوړو زده‌کړو ټولو مؤسسو ته اړینه ده چې پنځه کلن مالي پلان طرحه او ترتیب کړي چې باید د بېلابېلو برخو اړتیاوو پراساس جوړ شي.

### د څلورم معیار "مالي او اداري منابع" د پلي کولو خنډونه

1. د مالي مدیریت او پراختیا کافي ظرفیت نشتوالی.
2. ناپایېدونکی او بې‌ثباته مالي وضعیت.
3. د مالي متخصصانو کمښت.
4. د څلورم معیار په اړه د ناسم فهم او غلطو برداشتونو پراخ شتون.
5. د کافي مالي سرچینو نشتوالی.
6. د حساب ورکولو او مدیریتي سیستمونو نشتوالی.
7. د منظم مالي راپورونو نشتوالی.

پورته یادې شوې ننګونې د مالي او اداري معیارونو د اغېزمن پلي کولو مخه نیسي.

## پنځم معیار "اکاډمیک پروګرامونه"

د لوړو زده‌کړو مؤسسې باید له خپلو استراتېژیکو پلانونو او ماموریتونو سره سم د اکاډمیکو پروګرامونو بیاکتنه او څېړنه وکړي، ترڅو د اړتیا په صورت کې اړین اصلاحات پکې راوستل شي؛ البته د دې معیار پلي کول هم ځینې خنډونه لري.

### د پنځم معیار د پلي کولو اصلي خنډونه

1. د معیارونو د پلي کولو لپاره د کافي ماهرو او بشري سرچینو نشتوالی.
2. پروسې پېچلې دي لکه د کورسونو بیاکتنه او د پروګرامونو کلنۍ څارنه.
3. د شاخصونو د پلي کولو د سندونو او شواهدو چمتوکېدل ډېر وخت نیسي؛
4. په تحصیلي ادارو کې د کاروبار زیاتوالی د معیارونو پلي کولو ته ستونزې پیدا کوي.
5. د انټرنټ چټکه اړیکه او اړوند تجهیزات په ځانګړې توګه د آنلاین زده‌کړو لپاره کموالی.
6. د اضافي شاخصونو شتون چې د مهمو شاخصونو پلي کول ګرانوي.[10]
7. له کورنیو او بهرنیو ادارو سره په همکارۍ کې ستونزې لکه د ویزې محدودیتونه، د سفر لګښتونه او حکومتي پالیسۍ.

---

[9] عتیق‌الله رحیمی و میر عثمان ایوبی، "نقش تطبیق معیارهای تضمین کیفیت،" *بهارستان: فصلنامه علمی–تحقیقی علوم اجتماعی* 1، ش 1 (خزان 1402).

[10] عتیق‌الله رحیمی و میر عثمان ایوبی، "نقش تطبیق معیارهای تضمین کیفیت،" ص 12.

پورته ذکر شوي لاملونه د دې معيار د پلي کولو په سرعت او پرمختګ کې خنډونه رامنځته کوي.

### شپږم معيار "څېړنه"

شپږم معيار په بشپړه توګه د لوړو زده‌کړو په مؤسسو کې له ترسره شويو څېړنو سره تړاو لري؛ د کيفيت د لوړولو رياست، دغه معيار د پوهنتونونو د څېړنې فعاليتونو د پرمختګ لپاره وضع کړی دی ترڅو د تحصيلي ادارو علمي کادرونه په علمي څېړنو کې برخه واخلي؛ البته د دې معيار د پلي کولو اصلي ننګونې په لاندې ډول دي:

### د شپږم معيار د پلي کولو خنډونه

1. په ملي او نړيواله کچه د څېړنې د اسانتياوو کمښت
2. د علمي څېړنو لپاره د لوړې پانګې اړتيا په داسې حال کې چې د افغانستان تحصيلي مؤسسې له اقتصادي ستونزو سره مخ دي
3. نړيوالو ژورنالونو ته د استاذانو او محصلينو د لاسرسي نشتوالی چې د څېړنو په ترسره کولو لپاره خورا مهم دي
4. د علمي څېړنو د ترسره کولو لپاره د اړين مهارت او هڅو نشتون
5. د هېواد د څېړنې په برخه کې د متخصصينو د کموالی
6. د حکومتي پالېسی هغه محدوديتونه چې د څېړنيزې فضاء په تنګولو کې مرسته کوي

پورته ذکر شوې ستونزې د شپږم معيار د پلي کولو پر وړاندې ستونزې جوړوي.[11]

### اووم معيار: "استاذان او کارکوونکي"

د دې معيار له‌مخې د لوړو زده‌کړو ادارې مکلفې دي چې اړين استاذان او کارمندان وګماري، مديريت يې وکړي او وده ورکړي ترڅو خپلې استراتېژيکې موخې او ماموريتونه ترلاسه کړي.

### د اووم معيار "انساني ځواک او علمي کادر" د پلي کولو خنډونه

1. **د متخصص انساني ځواک کمښت:** په ځانګړې توګه په هغو خصوصي لوړو زده‌کړو ادارو کې چې استاذان يې علمي رتبې نه لري او له کاري خونديتوب څخه برخمن نه دي چې دا د دې لامل کېږي چې په دې مؤسسو کې د کار کولو لپاره علاقه کمه شي.
2. **د استاذانو لپاره د امکاناتو کمښت:** هغه استاذان چې کم مالي امتيازات لري اړ دي چې د تدريس ترڅنګ نور فعاليتونه هم ترسره کړي چې دا د هغوی پر اصلي دندو باندې تمرکز کموي.
3. **د اکاډميکو آزاديو لپاره د مشخصې پالېسی نشتوالی:** د لوړو زده‌کړو وزارت له‌خوا د اکاډميکو آزاديو لپاره د واحد سياست نشتوالی په تحصيلي ادارو کې بېلابېل تفسيرونه رامنځته کوي.[12]
4. **په تحصيلي ادارو کې د کاري خونديتوب نشتوالی:** استاذان په تحصيلي ادارو کې کافي کاري خونديتوب نه لري او لنډ مهاله قراردادونه لري چې د متخصصو افرادو جذب ته خنډ جوړوي.

---

[11] غلام يحيی رنجبر، "نگاهی به وضعيت دانش و دانشگاه در افغانستان،" *فصلنامه پژوهش‌های تطبيقی فقه، حقوق و سياست* 6، ش 3 (ميزان 1402).

[12] احمدبخش اخلاصی، "آسيب‌ها و کاستی‌های نظام آموزشی افغانستان (از آغاز تا بيست سال نظام جمهوری)،" *گفتمان فقه تربيتی* 1401، ش 2 (ايران: 1401).

## اتم معیار: "د محصلینو تجربې"

د دې معیار پر بنسټ ټینګار کېږي چې د لوړو زده‌کړو ادارې باید داسې یو مثبت چاپېریال رامنځته کړي چې محصلین په کې وکولی شي ښې زده‌کړې وکړي، وده وکړي او بریالیتوب ترلاسه کړي.

### د اتم معیار د پلي کولو خنډونه

1. **د محصلینو لپاره د عملي کار د امکاناتو نشتوالی:** د لوړې زده‌کړې ادارې، په ځانګړې توګه شخصي ادارې، د امکاناتو د کمښت له‌امله نه شي کولی د فارغ‌التحصیلانو لپاره اړینې تجربې او مهارتونه برابر کړي چې دا د دې سبب ګرځي چې د فارغ التحصیلانو لپاره د مناسبې دندې موندل ستونزمن شي.
2. **وختي محدودیتونه:** په خصوصي ادارو کې د درسونو محدود وخت او اضافي مصروفیتونه محصلینو ته کافي وخت نه ورکوي چې خپل عملي مهارتونه زیات کړي.[13]

## نهم معیار: "د کیفیت پرمختګ او لوړتیا"

له دې معیار سره سم د کیفیت د پرمختګ ریاست په ځرګنده توګه په لوړو زده‌کړو مؤسسو کې د کیفیت د لوړولو برخې پر رامنځته کولو باندې تمرکز کوي او تمه لري چې په هره مؤسسه او پوهنځیو کې د کیفیت د لوړولو کمېټې جوړې شي، ترڅو د کیفیت د مدیریت او پرمختګ لپاره قوي رهبري او مدیریت چمتو کړي.

### د نهم معیار په تطبیق کې خنډونه

1. **د پروګرامونو په اړه د سمې پوهې نشتوالی:** د لوړو زده‌کړو مؤسسو مسئولین د کیفیت لوړولو د پروګرامونو او معیارونو په اړه سمه پوهه نه لري.
2. **د معیارونو په اړه ابهام:** د کیفیت د لوړولو کارکوونکي د معیارونو په اړه ابهام لري او نه شي کولی چې پروګرامونه سم ترسره کړي.
3. **د عملي تطبیق ټیټوالی:** د کیفیت لوړولو د پروګرامونو عملي اړخونه ټیټ دي.
4. **په بشپړه توګه د معیارونو نه بنسټیز کول:** د کیفیت لوړولو د پروسې په تطبیق په بشپړه توګه بنسټیز شوی نه دی.[14]

## لسم معیار: "کتابتون او معلوماتي سرچینې"

له دې معیار سره سم د لوړو زده‌کړو مؤسسې مکلفې دي چې محصلینو او استاذانو ته د کتابتونونو او معلوماتي سرچینو د لاسرسي زمینه برابره کړي؛ البته د دې معیار تطبیق هم ځینې خنډونه لري:

---

[13] عتیق‌الله رحیمی و میر عثمان ایوبی، "نقش تطبیق معیارهای تضمین کیفیت،" *بهارستان* 1، ش 1 (خزان 1402).

[14] بیژن عبداللهی و محمدعلی حیدری، "بررسی سیاست‌گذاری فرصت‌های استخدام در نظام آموزش عالی افغانستان،" *دوفصلنامه یافته‌های مدیریت آموزشی*، ش 2 (خزان 1400).

### د لسم معیار په تطبیق کې خنډونه

1. **د کتابدارۍ په برخه کې د متخصصو کسانو نشتوالی:** په ډېرو کتابتونونو کې د کتابدارۍ تعلیم لرونکي کارمندان نشته او هغه کسان چې د لېسانس سند لري، د مسئولیتونو د پرمخ وړلو لپاره تاکل شوي چې دا د کتابتونونو په پلانولو او پراختیا کې ستونزې رامنځته کوي.
2. **د سرچینو کمښت او محدود ظرفیت:** کتابتونونه کافي سرچینې نه لري او ظرفیت یې کم دی چې کېدای شي دا په هېواد کې دننه د پوهې د تولید او تألیف محدودیتونه وي؛ دغه خنډونه د کتابتونونو فعالیت او اغېزمنتوب کموي.

### یوولسم معیار: "د تدریس او معلوماتي ټکنالوژۍ اسانتیاوې"

له دې معیار سره سم د لوړو زده‌کړو مؤسسې مکلفې دي چې د مؤسسې املاک او د ټکنالوژۍ بنسټونه پیاوړي کړي ترڅو د مؤسسې د ماموریت او ستراتېژیکو موخو د ترلاسه کولو لپاره زمینه برابره شي. د دې معیار تطبیق هم ځینې ستونزې لري:

### د یوولسم معیار په تطبیق کې خنډونه

1. **د استاذانو او محصلینو د معلوماتي ټکنالوژۍ په اړه ناسمه پوهه:** ډېری استاذان او محصلین د ټکنالوژۍ د استفادې له پاره کافي پوهه نه لري او د دودیزو لارو څخه دوام ورکوي.
2. **د کافي زېرساختونو نشتوالی:** داسې ستونزې لکه د مناسبې برېښنا نشتوالی او کمزوری او گران بیه انټرنېټ په اغېزمنه توگه د دې معیار په تطبیق کې اصلي خنډونه دي.[15]

### د افغانستان د لوړو زده‌کړو مؤسسو اوسنی حالت

د افغانستان د لوړو زده‌کړو مؤسسې له سیاسي بدلون وروسته له پام وړ بدلونونو او لویو ننگونو سره مخ شوي دي. دغه مؤسسې اوس بنسټیز بدلونونه او جبران نه‌کېدونکې ننگونې تجربه کوي چې د دې مهمو ټکو لنډیز په لاندې ډول دی:

**1. د محصلینو د شمېر سخت کمښت**: له سیاسي بدلون وروسته د محصلینو په شمېر کې د پام وړ کموالی راغلی دی. په ځینو څانگو کې دغه کمښت تر ٪۶۰ پورې دی او په نورو څانگو لکه حقوق، سیاست، او ټولنپوهنه کې تر ٪۹۵ پورې رسېږي. د دې اصلي علتونه اقتصادي، امنیتي، د تعلیم د کچې ټیټوالی، د مجربو استاذانو د وتلو او د شغلي راتلونکي د نه پېژندلو له امله د کمې دلچسپۍ شتون دی.[16]

**2. د مجربو او متخصصو استاذانو کمښت:** کې شمېر تحصیل او تجربه لرونکي او ممتاز استاذان د اقتصادي وضعیت او تحصیلي محدودیتونو له امله د مهاجرت په حالت کې دي چې دا کار د استاذانو د کمښت او تحصیلي کیفیت د کموالي سبب شوی دی.

---

[15] محمد طاهر تنزه‌ی، "چالش‌های نظام آموزش تحصیلات عالی در افغانستان،" *فصلنامه علمی–تحقیقی علوم اجتماعی پوهنتون غالب* 12، ش 4 (زمستان 1402).

[16] فدامحمد فرزام و عبدالقیوم شفق، "نقش تطبیق معیارهای تضمین کیفیت،" *فصلنامه پژوهش‌های معاصر در علوم مدیریت و حسابداری* 3، ش 9.(1400)

**3. جنسيتي جلاوالی:** د جنسيتي جلاوالي پالیسي د پوهنتونونو لګښتونه زیاتوي. د محصلینو لاسرسی، د تحصیلي امکاناتو کمښت او د ښځو لپاره د تحصیل محدودیتونه د صنفونو د بندېدو سبب کېږي.

**4. د پوښښ او تګ‌راتګ محدودیتونه:** محصلین او استاذان باید د پوښښ معیارونه مراعت کړي. دغه محدودیتونه د محصلینو د دلچسپۍ کمولو او د دوی د زده‌کړو د پرېښودلو سبب شوي دي.

**5. د تحصیلي محتوی تغییر:** د تخصصي مضمونونو حذف او د دیني درسونو په کچه کې څلور برابره زیاتوالی د پوهنتونونو له تخصص څخه انحراف او د تحصیلي فعالیتونو د کموالي سبب شوی دی.[17]

**په تحصیلي کیفیت کې د اوسني وضعیت اغېزه:**

له سیاسي بدلون وروسته د نوو محصلینو جذب او پخوانیو محصلینو ته د دوام ورکولو په شمېر د ۸۰٪ کمښت سره مخ شوی دی. د دې کمښت اصلي علتونه اقتصادي ستونزې، بېکاري او د حکومت نوي محدودیتونه دي. په تېرو وختونو کې خصوصي پوهنتونونو د کمیت له لحاظه ستره وده لرله، خو اوس له جدي ننګونو سره مخ دي. په کابل او نورو ولایتونو کې پوهنتونونه د محصلینو له کمښت او مالي ستونزو سره مخ دي.

په مجموع کې دغه بدلونونه د افغانستان په خصوصي پوهنتونونو کې پر تحصیلي کیفیت او اقتصادي وضعیت باندې منفي اغېزه کړې ده. د ښځو د تعلیم له سختو محدودیتونو سره ګڼ شمېر خصوصي پوهنتونونه له بحران سره مخ شوي او تر ۳۰ زیاتو خصوصي تحصیلي مؤسسو د اقتصادي ستونزو له امله خپل فعالیتونه بند کړي دي. دغه ستونزې د محصلینو د کمښت او د حکومت د لاسوهنې له امله دي چې د تحصیلي پروګرامونو د کیفیت او تنوع کمولو لامل شوي دي. پوهنتونونه د فکري استقلال او مالي ستونزو له کبله له جدي بحران سره مخ دي.

محصلین او استاذان د اوسني وضعیت په اړه اندېښنې لري. ډېر محصلین باور لري چې د پوهنتونونو ترل، په ځانګړې توګه د ښځو د تحصیل بندول، د مؤسسو مالي او علمي سرچینې له منځه وړي. استاذان هم د تحصیلي کیفیت کمښت او د مالي سرچینو کمښت د خصوصي پوهنتونونو د بحران اصلي لاملونه ګڼي.

په دې شرایطو کې ګڼ شمېر پوهنتونونه یا ترل شوي دي یا د مالي سرچینو او د محصلینو د کمښت له امله نه‌شي کولی خپل فعالیتونه جاري وساتي. همدارنګه، ډېرو استاذانو او محصلینو افغانستان پرېښی دی او د اوسني وضعیت له امله د خصوصي تحصیلي مؤسسو راتلونکی په جدي توګه ګواښل شوی دی.

**د دې وضعیت اوږدمهاله اغېزې د لاندې محورونو له مخې کتل کېدای شي:**

**د ماهر کاري ځواک له‌منځه تلل** او **د نخبګانو کډوالي:** د استاذانو او محصلینو پراخه کډوالي د علمي ظرفیت کمښت او د متخصص بشري پانګې د لاسه ورکولو سبب کېږي. دا به په اوږده موده کې د طبي، انجنیری، ټولنیزو علومو او مدیریت په څېر اړینو برخو کې د ماهر او متخصص کاري ځواک کمښت رامنځته کړي.

[17] محمدعلی نظری، "نگاهی آسیب‌شناسانه به نظام تحصیلات عالی افغانستان،" *دوفصلنامه یافته‌های علوم تربیتی* 1، ش 1 (سنبله 1400): 25–48.

**د رقابتي مهارتونو نشتوالی**: د تخصصي مضامينو له حذف او د زده‌کړې د کيفيت له کمښت سره راتلونکی نسل له علمي او عملي مهارتونو څخه بې برخې پاتې کېږي چې د ټولنې د ستونزو د حل لپاره اړين دي او په نړيوالو بازارونو کې د سیالۍ لپاره نه دي چمتو.

د اقتصادي ودې او پرمختګ څنډ:

- **اقتصادي رکود**: د تحصيل شوي او ماهر کاري ځواک د نشتوالي په پايله کې په اوږد مهاله توګه پر اقتصادي پرمختګ باندې منفي اغېزه کوي. هغه پوهنتونونه چې په تېرو کې يې د متخصصينو د روزنې مهمه ونډه درلوده اوس د کارکوونکو پر روزنه او تربيت کې بې وسه شوي دي.
- **د بهرنۍ پانګونې د راجلبولو کمښت**: هغه هېوادونه چې ماهر کاري ځواک نه لري، نه‌شي کولی بهرني پانګوال جذب کړي ځکه چې ماهر کاري ځواک د پانګونې د ودې له پاره يو له مهمو اړتياوو څخه دی.
- **د ځوان نسل مايوسي**: د زده‌کړې لپاره د انګېزې کمښت او د راتلونکي په اړه مايوسي باعث کېږي چې د تحصيل پرېښودل، د نشه‌يي توکي استعمال، جرمونه او کډوالی زيات شي. دغه وضعيت يو بې موخه او سرخورده نسل ته زيان رسوي چې د هېواد په بيا رغونه کې برخه نه اخلي.
- **د ټولنيزې پانګې پرېکېدل**: د تحصيلي نظام او پوهنتونونو پر وړاندې د باور نشتوالی د ټولنيز يووالي کمښت لامل کېږي. دا وضعيت کولی شي، ټولنه د بې ثباتۍ او ټولنيزو کړکېچونو لور ته بوځي.

د افغانستان علمي او فرهنګي انزوا:

- **له نړيوالې پوهې سره اړيکې پرې کول**: د علمي معيارونو کمښت او د نخبګانو وتل د افغانستان د علم او ټکنالوژۍ نړيوالو جريانونو څخه د جلا کولو لامل کېږي. دا هېواد به په علمي، څېړنيزو او فرهنګي برخو کې له نورو هېوادونو څخه وروسته پاتې شي.
- **د پوهنتونونو ميراث له لاسه ورکول**: هغو پوهنتونونو چې کولی شول د پوهې د توليد او فرهنګ د پراختيا لپاره مرکزونه وي، اوس د علمي هويت او فعاليت له لاسه ورکولو سره يوازې مذهبي فعاليتونو ته محدود شوي دي.

**له بهرنۍ مرستې سره د تړاو زياتوالی:**

- **د ځان بسيا کولو د وړتيا نشتوالی**: د تحصيلي نظام له‌منځه تلل او د بشري ځواک د کيفيت کمښت به افغانستان ته د بهرنۍ مرستې اړتيا زياته کړي. دغه تړاو د هېواد خپلواکي او د داخلي چارو په مديريت کې وړتيا کمه کړي.
- **د بشري بحرانونو شدت**: د بحرانونو د حل لپاره د متخصصينو نشتوالی به په اوږد مهاله توګه نړيوالو مؤسسو ته د مرستې اړتيا زياته کړي.

د تحصيل پر کيفيت باندې د مغزونو د فرار اغېزې:

د مغزو فرار پديده چې له متخصصينو، تحصيل کوونکو کسانو او د ځوانانو له کډوالۍ سره تړاو لري، د افغانستان لپاره يو جدي او څو اړخيزه بحران رامنځته کوي. دا پديده چې په ځانګړي ډول په سياسي، ټولنيز او اقتصادي برخو کې سختې ستونزې رامنځته کوي، پر مؤسسو او د تحصيلاتو پر کيفيت باندې منفي اغېزه کوي.

د افغانستان د دماغو د مهاجرت پدیده، چې له سیاسي بدلونونو وروسته د هېواد یوه جدي ستونزه شوې ده، پر ټولو برخو لکه سیاسي، ټولنیز او اقتصادي وضعیت اغیزې لري. له دې پدیدې سره چې د متخصصو، تحصیل کوونکو او ځوانانو د مهاجرت سره مل دی، د تحصیلاتو د کیفیت په برخه کې جدي بحرانونه رامنځته کوي. د دماغو مهاجرت د تحصیلاتو پر کیفیت باندې لاندې اغېزې لري:

- **د تحصیلي کیفیت کمښت:** د نخبه ګانو مهاجرت د پوهنتونونو د استاذانو او څېړونکو شمېر کموي، چې دا د تدریس کیفیت ټیټوي، د تخصصي کورسونو کمښت رامنځته کوي او په پایله کې د تحصیلي معیارونو د ټیټېدو لامل کېږي.[18]
- **د علمي څېړنو په برخه کې د بشري سرچینو کمښت:** د دماغو مهاجرت د هغو څېړونکو او محققانو له منځه وړل دي چې کولی شي مهمې علمي پروژې پرمخ یوسي، چې پوهنتونونه د څېړنې او نوښت په برخه کې کمزوري کوي.[19]
- **د نوې علمي او ټکنالوژیکي پوهې ناپېژندل:** مهاجر کسان له نوې ټکنالوژۍ او پرمختللو علمي لارو سره بلدیږي، خو ډیری وختونه دغه مهارتونه خپل اصلي وطن ته نه‌راوړي چې په نتیجه کې پوهنتونونه له نوي علمي او ټکنالوژیکي پرمختګونو څخه بې برخې پاتې کېږي.[20]
- **د محصلینو د انګېزې کموالی:** کله چې محصلین ګوري چې د دوی د هېواد غوره استاذان او څېړونکې بهر ته ځي، دا کولی شي د دوی تحصیلي او علمي انګېزه راټیټه کړي چې دا وضعیت د ترک تحصیل او نوښت په برخه کې منفي اغېزې لري.
- **د پوهنتونونو د اعتبار کموالی:** د دماغو د مهاجرت له امله پوهنتونونه د نړیوالو معیارونو په کچه خپل اعتبار له لاسه ورکوي. دا وضعیت کولی شي د پوهنتونونو د نړیوالو رتبې کمولو لامل شي.
- **اقتصادي اغېزې:** د نخبه‌ګانو مهاجرت په هېواد کې اقتصادي ودې ته زیان رسوي ځکه چې متخصصین کولی شي په نوښت، تولید او ټکنالوژۍ کې په اقتصادي پراختیا کې مرسته وکړي.

د دې ټولو په پایله کې د دماغو مهاجرت نه یوازې د پوهنتونونو لپاره ستونزې رامنځته کوي، بلکه د هېواد د علمي او اقتصادي پرمختګ لپاره هم جدي ګواښونه رامنځته کوي.

## د غیر علمي غړو د جذب منفي اغېزه

د پوهنتونونو لپاره د هیئت علمي د جذب معیارونه او د افغانستان له تحصیلي نظام سره د دې معیارونو پرتله کول یوه مهمه موضوع ده. څېړونکو په هیئت علمي جذب کې اته کلیدي معیارونه یاد کړي دي چې په نړیوالو پوهنتونونو لکه امریکا، استرالیا، بریتانیا، کاناډا او ایران کې د هیأت علمي جذب سیاستونو کې په پام کې نیول کېږي. دغو معیارونو کې عدالت، برابري او انصاف، شفافیت، د ځورېدونکو ډلو لومړیتوب، وړتیا، پراخه غوښتنه، تنوع او ځواب ورکول شامل دي.

[18] معروف عمر، "ضعف سیستم آموزش عالی در افغانستان و افت تحصیلی دانشجویان،" 18 جدی 1398، /https://noonweekly.com
[19] زهرا غلامی، "بررسی نقش دانشگاه‌ها در توسعه فرهنگی افغانستان،" (تهران: پژوهشکده فرهنگ دانشگاه علامه طباطبایی، 1399).
[20] عصمت مسعودی، "تحلیل دسترسی به فرصت‌های برابر در توسعه آموزش عالی در کشور،" *فصلنامه پژوهش و برنامه‌ریزی در آموزش عالی*، ش 27 و 28.(1382)

د دې په منځ کې عدالت په هیئت علمي، د غړو د ګمارنې په ځانګړې توګه د وړتیا پر اساس او له تبعیض پرته د انتخاب پر مهموالي ټینګار شوی دی. بېلابېل پوهنتونونه لکه MIT، ویسکانسین-مادیسون او بریستول د هیئت علمي د غړو د استخدام لپاره د عدالت او برابري پالیسۍ ترتیب کړې دي. برابري او انصاف هم د دې پروسو یو اساسي اصل بلل کېږي او تضمین کوي چې ټول وړ کسان پرته له دې چې جنسیت، نسل، یا نورو غیر اړوندو عواملو ته پام وشي، د کارموندنې فرصتونو ته لاسرسی ولري.

په روڼتیا کې پوهنتونونه لکه آلبرټا او MIT د ګمارنې پروسې له روڼتیا او عدالت سره ترسره کوي او د غوښتونکو معلومات له محرمیت ساتلو قوانینو سره سم راټولوي. د ځوربدونکو ډلو د لومړیتوب په اړه پوهنتونونه په ځانګړې توګه په متحده ایالاتو او کاناډا کې د اقلیتي ډلو، ښځو او معلولینو لپاره ځانګړي فرصتونه وړاندې کوي.[21]

په افغانستان کې د تحصیلي نظام لپاره دا اصول په بشپړ ډول نه‌تطبیقېږي. په افغانستان کې د هیئت علمي جذب لپاره شته قوانین او لایحې عموماً له پېچلو او اوږدو پروسو سره تړاو لري چې د سخت عمر او ژبې شرایط لري او د برابرۍ او مساوي فرصتونو ته لږ پام کېږي. په پایله کې د هیئت علمي جذب معیارونه، چې په نړیوالو پوهنتونونو کې تطبیقېږي، د افغانستان له اوسني وضعیت سره ډېر توپیر لري په ځانګړې توګه د عدالت، برابري او رونتیا په برخو کې.

لوړ تحصیل د هېوادونو په ځانګړې توګه د افغانستان، په اقتصادي، ټولنیز او کلتوري پرمختګ کې کلیدي رول لري. خو د هیئت علمي د جذب نظام په افغانستان کې له نړیوالو معیارونو لکه عدالت، برابري، روڼتیا، تنوع او د ځوربدونکو ډلو له ملاتړ سره همغږي نه لري. شته قوانین ډېری د تمرکز پربنسټ او پر بوروکراتیکو پروسو باندې ټینګار کوي او د علمي آزادۍ او پوهنتونونو خپلواکۍ ته کافي پام نه دی شوی.[22]

## د افغانستان د لوړو زده‌کړو د سیستم ستونزې او د محصلینو تحصیلي کموالی

زده‌کړه د ټولنیزې پرمختیا او پراختیا لپاره یو بنسټیز رکن دی او باید له لوړ کیفیت سره په تحصیلي سیستمونو کې وړاندې شي ترڅو د بشري او مادي سرچینو د ضایع کېدو مخه ونیول شي. د افغانستان د لوړو زده‌کړو د سیستم کمزوري، په افغانستان کې د زده‌کړو د کیفیت د زړو تدریسي سیستمونو او د کمیتي سیستمونو لکه د کرېډیټ پر سیستم باندې له ډېر تمرکز سره مخ دی. دا د تدریس کیفیت کموي او د متخصص بشري ځواک د روزنې وړتیا نه شي پوره کولی. ځینې ستونزې چې په لاندې ډول طبقه بندي کېږي عبارت دي له:

1. **د تدریس طریقه او ازموینې:** په پوهنتونونو کې د تدریس او ارزونې شته طریقه د محصلینو استعدادونه او فردي وده محدودوي.

2. **د زده‌کړو او د ټولنې د اړتیاوو ترمنځ د همغږۍ نشتوالی:** د لوړو زده‌کړو مؤسسې په ټولنه کې د متخصص او کارپوه بشري ځواک روزلو کې پاتې راغلي چې دا هېواد ته د پرمختګ نه لرلو لامل ګرځي.

3. **د تحصیلي کیفیت کمښت:** د تحصیلي کیفیت کمښت یوه لویه ستونزه ده چې نه یوازې ډېر لګښت لري، بلکې د محصلینو لپاره رواني او ذهني ستونزې رامنځته کوي. د تدریس کیفیت او د تحصیلي سیستمونو په اړه کمزورۍ ته په

[21] اسدالله شفایی، "تحصیلات عالی و فقدان کتاب‌های درسی در افغانستان،" 21 خرداد 1391، برگرفته از سایت بی‌بی‌سی.

[22] بیژن عبداللهی و محمدعلی حیدری، "بررسی سیاست‌گذاری فرصت‌های استخدام در نظام آموزش عالی افغانستان،" *دوفصلنامه یافته‌های مدیریت آموزشی*، ش 2 (خزان 1400).

پام سره اړتیا ده چې د لوړو زده‌کړو سیستم په افغانستان کې اصلاح شي او د ټولنې اړتیاوو او نړیوالو معیارونو ته نږدې شي.

**4. په زده‌کړو کې سوداګریز لید لوری:** ځینې مؤسسې د اقتصاد له پلوه د علم او کلتور پر ځای یوازې د ګټې په لټه کې دي چې دا د کیفیت د ټیټوالي لامل ګرځي. د دې اقتصادي لید لوري پایله دا ده چې فارغ التحصیلان له کمزورو معلوماتو او پوهې سره په ټولنیزو، سیاسي او کلتوري برخو کې کار ته ځي چې د تحصیلي سندونو اعتبار او د ور کسانو لپاره د کاري فرصتونو د کمښت سبب کېږي.[23]

**5. د کمزورو استاذانو ګمارنه:** د اقتصادي لیدلوري له امله د لوړو زده‌کړو ځینې مؤسسې کم تجربه یا کم پوهه استاذان ګماري یا د پوهه او با تجربه استاذانو ته ټیټ تنخواګانې ورکوي چې دا د تعلیم پر کیفیت باندې منفي اغېزه کوي.

**6 . د بډایه او بې انګېزې محصلینو منل:** د هغو محصلینو  جذب کول چې د مالي ورتیا له‌مخې منل کېږي، نه د علمي استعداد له مخې، د زده‌کړو کیفیت ټیټوي.

**7. د تعلیم د کیفیت کمزوري:** د پلان جوړونې کمښت او ناسم لګښت د درسي کیفیت لوړولو او تحصیلي وضعیت د ښه کولو مخه نیسي.

**8. د کره څارنې او اخلاقي عادت نشتوالی:** د ګټې د تمرکز له امله د محصلینو ترمنځ اخلاقي ناهنجارۍ زیاتېږي او په دې برخه کې کافي څارنه نه ترسره کېږي.

**9. د عرضې او تقاضا ترمنځ د همغږۍ نشتوالی:** یو له لویو ستونزو څخه دا ده چې د خلکو غوښتنه د لوړو زده‌کړو لپاره د پوهنتونونو له ظرفیت څخه ډېره ده. سره له دې چې په دې برخه کې ځینې پرمختګونه شوي دي، خو لا هم ډېر شمېر غوښتونکي له پوهنتونونو څخه د ظرفیت د کمښت له امله لوړو زده‌کړو ته نه‌شي رسېدلی.

**10 . د زده‌کړو ټیټ کیفیت:** د افغانستان پوهنتونونه د زده‌کړو په برخه کې له جدي ستونزو سره مخ دي لکه د تجربه لرونکو استاذانو نشتوالی، نا کافي تجهیزات او د درسي پروګرامونو کمزورتیا. دا ستونزه د دې لامل کېږي چې فارغ التحصیلان کاري بازار ته داخل نه شي او اړین مهارتونه ترلاسه نه‌کړي.[24]

**11 . د تحصیلي سرچینو غیرمتوازن وېشل:** په داسې حال کې چې د افغانستان ځینې سیمې ډېر پوهنتونونه لري، ځینې نور آن د ابتدایي ښوونځیو له نشتوالي سره مخ دي. دا نابرابري لوړو زده‌کړو ته د لاسرسي لپاره ژورې خلاوې رامنځته کوي.

**12 . د پالېسیو د همغږۍ نشتوالی:** نورې جدي ستونزې دا دي چې د هېواد بېلابېل وزارتونه لکه د لوړو زده‌کړو وزارت او د پوهنې وزارت ترمنځ همغږي نشته. دې مسلې د هېواد له اړتیاوو سره سم د پوهنتونونو د تخصصي برخو او څانګو په اړه د اړتیا سنجونې د نه ترسره کېدل لامل ګرځولي.

---

[23] سید امیرشاه حسن‌یار، "بحران آموزش عالی در افغانستان،" *مجله مدنی* 5، ش 12 (1386)، مجله آنلاین مجما.

[24] ویلیام تیرنی، *نگاهی به وضعیت آموزش عالی در افغانستان*، ترجمه رضا محتشم، 29 فروردین 1397، برگرفته از سایت.Vista News Hub

**13 . بروکراسي او کاغذي کار:** د اداري ناسم جوړښت او د غیرمتخصصو او غیرمسلکي کسانو ګمارل د لوړو زده‌کړو وزارت کې د دې سکتور د نورو ننګونو له جملې څخه دي. د اداري پروسو اوږدوالی او د دې وزارت په مدیریت کې د اغېزمنتوب نشتوالی د تحصیلي خدمتونو کیفیت ټیټوي.

## د لوړو زده‌کړو د کیفیت معیارونو ته د رسېدو حل لارې:

1. **د نصاب بیاکتنه او اصلاح:** له نړیوالو معیارونو سره سم نصاب جوړول او له ساینسي او ټکنالوژیکي پرمختګونو سره سم یې تازه کول. استاذان له نویو تدریسي طریقو سره د آشنا کولو کارګاوې جوړول.
2. **د استاذانو کیفیت ښه کول:** له معتبر کورنیو او بهرنیو پوهنتونونو څخه د ماسټري او دوکتورا درجې لرونکو استاذانو جذبول. د پوهه او تجربه لرونکو استاذانو ته مالي امتیازات ورکول او ورته مناسب ټولنیز مقام جوړول. د اوسنیو استاذانو لپاره د ظرفیت لوړونې پروګرامونه جوړول.
3. **د پوهنتونونو د څارنه او ارزونه پیاوړې کول:** د لوړو زده‌کړو وزارت باید د دولتي او خصوصي پوهنتونونو پر کړنو کافي او جدي څارنه ولري: د پوهنتونونو د کیفیت د اندازه کولو لپاره مشخص معیارونه جوړول او عملي کول.
4. **د تحصیلي زېربناختونو او امکاناتو پراختیا:** په پوهنتونونو کې د معیاري لابراتوارونو، مجهزو کتابتونونو او څېړنیزو مرکزونو جوړول. د وروستیو ټکنالوژیو لکه د لوړ سرعت انټرنېټ او ډیجیټل سیستمونو څخه ګټه اخیستل.
5. **د دولتي پوهنتونونو ظرفیت لوړول:** په دولتي پوهنتونونو کې د محصلینو د جذب ظرفیت پراخول او په بېلابېلو ولایتونو کې نوي مرکزونه جوړول. د کمزورو ټولنیزو ډلو لپاره د بورسیو او مالي مرستو له لارې لوړو زده‌کړو ته د لاسرسی اسانول.
6. **د ښوونیز سیستم اصلاح:** د ښوونځیو په سیستم کې اصلاحات راوستل تر څو محصلین د لوړو زده کړو لپاره ښه چمتو شي او د معلوماتو پر ځای د عملي مهارتونو او خلاقیت لوړولو باندې تمرکز وشي.
7. **له نړیوالو تجربو څخه ګټه اخیستل:** د فنلینډ، هالنډ او چین په څېر هیوادونو له بریالۍ تحصیلي تجربو څخه ګټه اخیستل. د معتبر نړیوالو پوهنتونونو سره د همکارۍ تړونونه کول ترڅو علمي معلومات او ټیکنالوژي تبادله شي.
8. **د لوړو زده کړو د ظرفیت پراختیا:** د لوړو زده کړو وزارت باید په هېواد کې د تحصیلي ظرفیت پراختیا باندې جدي تمرکز وکړي او د هغو سیمو په تحصیلي مرکزونو کې پوهنتونونه جوړ کړي چې اړتیا یې ډېره ده. د خصوصي سکتور پیاوړي کول: د خصوصي سکتور په لوړو زده کړو کې د پانګونې هڅول د تحصیلي سیستم ستونزې حل کولو کې مرسته کولی شي، حکومت باید د دې برخې ملاتړ وکړي. اداري اصلاحات او د فساد سره مبارزه: په لوړو زده‌کړو وزارت او نورو اړوند مؤسسو کې اساسي اصلاحات راوستل او د فساد او تبعیض سره مبارزه ضروري ده. د لوړو زده کړو سیستم ښه والی به د هېواد د علمي، اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا لپاره اغېزمنه وي.

## پایله

د افغانستان اوسني تحصیلي وضعیت د جدي ستونزو سره مخ دی لکه د تحصیلي هڅو کمښت، د نخبه‌ګانو وتل او د علمي کیفیت ټیټېدل. دا حالت به په اوږده موده کې د هېواد او علمي پرمختګ مخه ونیسي او د تحصیلي بنسټونو د لا ډېرې کمزورۍ سبب شي. د تحصیلي نظام بحران چې د سیاسي بدلونونو وروسته رامنځته شوي، پراخه منفي پایلې به په

ټولنیز، اقتصادي، کلتوري او سیاسي اړخونو کې ولري. د اوسني تحصیلي وضعیت دوام د افغانستان شاتګ ته لاره هواروي او یوه نااميده او زیانمنه ټولنه رامنځته کوي. د دې حالت د بدلولو لپاره ضروري ده چې علمي او پوهنتوني بنسټونه بیا او بیا ورغول شي، د پوهنتونونو خپلواکي تقویه شي او نوي نسلونه د نوې علمي نړۍ پر اساس وروزل شي.

د تحصیلاتو نظام کې د کیفیت د تضمین معیارونو پلي کول د اسلامي امارت، د زده‌کړو وزارت او تحصیلي ادارو جدي پاملرنې ته اړتیا لري. د شته ستونزو د حل لپاره د پراخو پروګرامونو جوړول او تطبیق کولی شي د علمي کیفیت، ټولنیز، اقتصادي او کلتوري پرمختګ په برخه کې مرسته وکړي. د تحصیلي کیفیت معیارونو رعایت کول ضروري دي ترڅو د ټولنې اړتیاوې پوره شي او د علمي نوښتونو او علم تولید لپاره زمینه جوړه وشي.

د افغانستان د تحصیلاتو نظام کې د کیفیت د تضمین د معیارونو پلي کولو کې خنډونه او ننګونې ډېرې دي. په علمي او تحصیلي برخو کې باید د کمیت پر ځای کیفیت ته لومړیتوب ورکړل شي، د تحصیلاتو ادارو تر منځ د کیفیت د لوړولو ریاست سره همغږي رامنځته شي او د ځینو معیارونو بیا کتنه د وخت ضایع کولو مسائلو د لرې کولو لپاره یوه اړتیا ده. د کیفیت د تضمین د معیارونو مختلف تفسیرونه د دوی په پلي کولو کې خنډ رامنځته کوي او دا کار د کره معلوماتو ورکولو اړتیا لري. د کیفیت لوړول باید هدفمند، تحولي او د بازار کار له اړتیاوو سره سم وي.

د معیارونو سم پلي کول کولی شي د مؤسسو په بېلابېلو برخو کې د کیفیت د ښه کولو لپاره مرسته وکړي لکه د ځانګو، رهبریت، تحصیلي نصاب او د محصلینو خدمتونه. د اغېزمن تطبیق لپاره ټول ګټه اخیستونکي باید په دې کې برخه ولري او د لوړو زده کړو وزارت له لورې د معیارونو پلي کولو کره څارنه ضروري ده.

## وړاندیزونه:

1. د نخبه‌ګانو د بېرته راستنېدو هڅونه: د مهاجرو نخبګانو لپاره اسانتیاوې او د امنیت تضمین کول ترڅو دوی خپل هېواد ته راستانه شي.
2. د درسي پروګرامونو عصري کول: د تحصیلي منځپانګې بیاکتنه د عصري او عملي علومو باندې تمرکز.
3. د تحصیل نړیوال کول: له نړیوالو علمي بنسټونو سره اړیکې جوړول او د نړیوالې تجربې او پوهې څخه ګټه اخیستل.
4. د زېربناوو پراختیا: د پوهنتونونو او ښوونځیو بیارغونه د نړیوالو سازمانونو په همکارۍ.
5. پر تطبیقي علومو تمرکز: په هغو برخو کې متخصص ځواک تربیه کول چې د افغانستان د بیارغونې لپاره اړین دي لکه انجینري، کرنه، طب، او د بحران مدیریت.
6. د نړیوال ملاتړ ترلاسه کول: د نړیوالو سازمانونو لکه یونسکو، نړیوال بانک، او ګاونډیو هېوادونو څخه مالي او تخنیکي مرستې ترلاسه کول.
7. د علمي کادر د جذب لپاره عامه او رڼې پروسې جوړول.
8. د معیارونو رعایت لکه عدالت، تنوع او د زیان منونکو ډلو ملاتړ.
9. د هغو علمي نخبګانو لپاره د تدریس فرصتونه برابرول چې د دایمي کارموندنې شرایط نه لري.
10. پوهنتونونو ته د علمي کادر د جذب په پروسه کې د زیاتې خپلواکۍ ورکول.
11. د بروکراسۍ کمول او په نظام کې جذب په پروسه باندې تمرکز کول.
12. له پوهنتونونو څخه بهر نخبګانو ته په علمي شوراګانو کې د ګډون فرصت ورکول.
13. د خصوصي سکتور کې د علمي کدر د جذب په برخه کې جدي پام کول.

14. د استاذانو د علمي پرمختګ لومړیتوب او د جذب پروسې تشخیص.

دا پورته ذکر شوي اقدامات کولی شي په افغانستان کې د دوامداره او متوازن علمي پرمختګ لامل شي.

## اخځلیکونه


اخلاصی، احمد بخش. 1401. "آسیب ها و کاستی های نظام آموزشی افغانستان (از آغاز تا بیست سال نظام جمهوری)." *دوفصلنامه گفتمان فقه تربیتی*، دوره 1401، شماره 2.

تنزه‌ی، محمد طاهر. 1402. "چالش های نظام آموزش تحصیلات عالی در افغانستان." *فصلنامۀ علمی تحقیقی علوم اجتماعی پوهنتون غالب*، دوره و سال دوازدهم، شماره چهارم، زمستان.

حسن یار، سید امیرشاه. 1386. "بحران آموزش عالی در افغانستان." *مجله مدنی*، سال پنجم، شماره 12.

رحیمی، عتیق الله، و ایوبی، میر عثمان. 1402. "نقش تطبیق معیارهای تضمین کیفیت." *بهارستان، فصلنامه علمی-تحقیقی علوم اجتماعی*، سال اول، شماره 1، خزان.

رنجبر، غلام یحیی. 1402. "نگاهی به وضعیت دانش و دانشگاه در افغانستان." *فصلنامه پژوهش‌های تطبیقی فقه، حقوق و سیاست*، دوره 6، شماره 3، سال 7، میزان.

عبداللهی، بیژن، و حیدری، محمدعلی. 1400. "بررسی سیاست گذاری فرصت های استخدام در نظام آموزش عالی افغانستان." *دوفصلنامه یافته‌های مدیریت آموزشی*، شماره 2، خزان.

غلامی، زهرا. 1399. "بررسی نقش دانشگاه‌ها در توسعه فرهنگی افغانستان." *پژوهشکده فرهنگ دانشگاه علامه طباطبایی*.

فرزام، فدا محمد، و شفق، عبدالقیوم. 1400. "نقش تطبیق معیارهای تضمین کیفیت." *فصلنامه پژوهش‌های معاصر در علوم مدیریت و حسابداری*، دوره 3، شماره 9.

مسعودی، عصمت. 1382. "تحلیل دسترسی به فرصت‌های برابر در توسعه آموزش عالی در کشور." *فصلنامه پژوهش و برنامه‌ریزی در آموزش عالی*، شماره 27 و 28.

نظری، محمد علی. 1400. "نگاهی آسیب‌شناسانه به نظام تحصیلات عالی افغانستان (با تکیه بر رویکرد تعلیم و تربیت انتقادی)." *دوفصلنامه یافته‌های علوم تربیتی*، دوره 1، شماره 1، سنبله، صفحه 25–48.

تیرنی، ویلیام. 1397. "نگاهی به وضعیت آموزش عالی در افغانستان." مترجم: رضا محتشم. چهارشنبه 29 فروردین. قابل دسترسی در *Vista News Hub*. :

شفایی، اسدالله. 1391. "تحصیلات عالی و فقدان کتاب‌های درسی در افغانستان." 21 خرداد. قابل دسترسی در *BBC Persian*. :

ویب‌سایت ریاست ارتقای کیفیت و اعتباردهی وزارت تحصیلات عالی افغانستان. قابل دسترسی در: https://qaad.edu.af

جاویدی، غلام‌رضا. 1400. "توسعه علمی و موانع آن در افغانستان." 1400/11/24. قابل دسترسی در: https://8am.media/fa/توسعه

معروف، عمر. 1398. "ضعف سیستم آموزش عالی در افغانستان و افت تحصیلی دانشجویان." 1398/10/18. قابل دسترسی در: https://noonweekly.com/ضعف

غفاری، عبدالله. 1397. "ارتقای کیفیت تحصیلات عالی در افغانستان، چالش‌ها و دستاوردها." 1397/10/20. قابل دسترسی در: http://www.dailyafghanistan.com/opinion_detail.php?post_id=146357

## About the Authors

**Dr. Mohammad Osman Rohany,** *Assistant Professor, Department of Tafsir and Hadith, Faculty of Islamic Studies, Kabul Education University, Kabul, Afghanistan.* <*m.osman.rohany@gmail.com*>

**Mr. Abdul Zahid Ahmadi,** *Lecturer, Department of Islamic Culture, Alberoni University, Kapisa, Afghanistan.* <*ahmadizahid280@gmail.com*>